همکاری
آلمان
DEUTSCHE ZUSAMMENARBEIT

# زمونږ په اړه

المان او افغانستان د ۲۰مې پیړۍ د پیل راهیسې نږدې اړیکې لري. په ۲۰۱۵ کال کې دواړو هیوادونو وکولای شول د المان–افغان د ملګرتیا سل کاله ولمانځي. نن المان د افغان دفاعي او امنیتي ځواکونو د روزنې، سلامشورې او مرستې تر څنګ، په تیره بیا د پراختیایي همکارۍ ، د ثبات جوړونې د اقدامونو او د بشرپالنې د مرستو له لارې د افغانستان څخه ملاتړ کوي تر څو په دې توګه د دې هیواد د ډموکراتیکې او سوله ایزې پراختیا سره مرسته وکړي او د ترهګرو په یوه خوندي ځای باندې د افغانستان د یو ځل بیا بدلیدو څخه مخنیوی وکړي.

نړیوالې ټولنې د افغانستان په باب د وزیرانو په غونډه کې چې په کال ۲۰۱۲ کې په توکیو کې جوړه شوې وه تر ۲۰۲۴ کاله پورې د خپلو ژمنو په دوام هوکړه وکړه چې بیا دوه کاله وروسته یعنې په کال ۲۰۱۴ کې په لندن کې او، بروسلز (2016) او په دې وروستیو کې په جنیوا (2018) کې. د افغانستان حکومت په پراخه توګه د اصلاحاتو ګامونو مسولیت په غاړه لري چې په ګډه سره د نړیوالې ټولنې سره موافق دی خو په دې ډګر کې د نړیوالې ټولنې اوږدمهالې ژمنې ته اړ دئ.

المان به په راتلونکې کې هم د افغانستان د ملکي بیارغونې په موخه د پام وړ مالي سرچینو په برابرولو سره د بېوزلۍ پرضد د مبارزې، د ښې حکومتولۍ د جوړولو او د افغانستان د اقتصادي وضعې د سمون ورکولو او په دې توګه د پایښتونکي ثبات، امنیت او سولې د بنسټونو د منځته راوړلو د هڅو په لاره کې د دې هیواد څخه ملاتړ وکړي.

په افغانستان کې د المان د فدرال حکومت ملکي ژمنې د افغاني، الماني او نړیوالو کاریوهانو له خوا پلې کیږي چې په دولتي سازمانونو لکه د KfW پراختیایي بانک او Deutsche Gesellschaft für Internationale Zusammenarbeit (GIZ) GmbHد په اداره او همدارنګه په بیلابیلو نړیوالو او ملي غیرحکومتي سازمانونو کې د المان د فدرال حکومت په دستور په کار بوخت دي. د وروستیو کلونو په ترځ کې د اعزام شویو کاریوهانو شمیر لږ شوی دی. ټاکل شوې پروژې په زیاتیدونکې توګه د افغاني کاریوهانو له خوا په پراخه توګه پرمخ بوول کیږي.

په افغانستان کې د المان د ژمنې موخه داده چې د یوه داسې دولت په جوړولو کې مرسته وکړي کوم چې د امنیت، نظم او قانون د اغیزمن تامین او همدارز د اقتصادي پراختیا پر بنسټ په ټول هیواد کې مشروعیت ولري او له دې لارې ثبات برابرکړي. یو تلپاتې پرمختګ د ژوند شرایطو او په افغانستان کې د خلکو راتلونکې راتلونکې ته چمتو کیدی شي، په دې توګه د سولې، امنیت او ودې پیاوړتیا.

په راتلونکې مخو کې به تاسې په افغانستان کې د ملکي بیارغونې او پراختیا څخه د المان د ملاتړ په اړه لنډه کتنه ولولی.

Teaser text:
افغانستان په ۲۰۰۱ کال کې د طالبانو د نسکوریدو وروسته یو بیساری نړیوال ملاتړ – په تیره بیا د المان څخه – تجربه کړ هغه هیواد چې د پراخو پوځي او ملکي سرچینو په کارولو سره په افغانستان کې بوخت دئ. حتی که یو جامع کورنی سوله لا تر اوسه لرې ده ـ اوس افغانستان د اقتصادي، ټولنیز او د ټولنې د اړیکو له پلوه د پام وړ پرمختګ کړی دی. په لاندې مخو کې مونږ غواړو تاسو ته د افغانستان سره د المان د هراړخیزې همکارۍ په باب یوه لنډه کتنه وړاندې کړو. څکه هغه بریالیتوبونه چې د افغانستان سره د المان د همکارۍ له لارې په لاس راغلي دي د ننګوونو سره سره چې تر اوسه هم دوام لري، په سترګو لیدل کیږي.

Internal Links:
آلماني همکاران
افغان همکاران
اړیکه
د سایت خبرتیا

External Links:
[انټرنتي مخ (BMZ) د آلمان د اقتصادي همکاریو او پراختیا وزارت]

همکاری آلمان
DEUTSCHE ZUSAMMENARBEIT

د آلمان د بهرنیو چارو د وزارت انټرنټي مخ
د اداري انټرنټي مخ (GIZ) د جی آی زید
د اداري انټرنټي مخ (KFW) د کی اف دبلیو

- English
- Deutsch
- دری

Bundesministerium für wirtschaftliche Zusammenarbeit und Entwicklung